**بسم الله الرحمن الرحيم**

## ځوک چې خپلې خاتمې ته اندېښمن وي، بېړه کوي!

**(ژباړه)**

ابو هريره رضی الله عنه روايتوي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«**مَنْ خَافَ أَدْلَجَ، وَمَنْ أَدْلَجَ بَلَغَ الْمَنْزِلَ، أَلاَ إِنَّ سِلْعَةَ اللَّهِ غَالِيَةٌ، أَلاَ إِنَّ سِلْعَةَ اللَّهِ الْجَنَّةُ**» (رواه ترمذي)

*__ژباړه:__ هر ځوک چې وېره او اندېښنه لري، د شپې په لومړۍ برخه کې حرکت پيلوي او ځوک چې د شپې په لومړيو کې حرکت وکړي، خپلې موخې ته رسېږي. پام مو وي چې د لله توکي ارزښتمن او قېمتي دي او پام مو وي چې د الله توکي جنت دی.*

(**من خاف**) په دې معنا دی، چې ځوک د لارې له غلطولو اندېښنه لري چې غله به يې مالونه لوټ کړي. (**أدلج**) په دې معنا دی، چې د شپې په لومړيو کې په ډېرې انرژۍ او بېړه حرکت کوي چې لار ولټوي او د غلو له شر څخه هم په امن وي. (**الدلجة**) يعنې د شپې په لومړۍ او يا وروستۍ برخه کې د لارې لټول؛ ځکه انسان د شپې په لومړۍ او وروستۍ برخه کې د تګ لپاره ډېر قوت او انرژي لري.

دغه حديث بيانوي چې مسلمان انسان پر يوه سخت او له کړاوونو ډک مسير روان دی؛ يعنې له خطرونو او ګناهونو ډکه لار. کېدې شي يو کس چې د خپل سفر له مسير څخه وېرېږي او هڅه کوي چې د ورځې يا شپې په يوه مناسب وخت کې پر خپل مسير حرکت وکړي، ترڅو خپلې موخې ته ورسېږي. مسلمان انسان بايد په پوره هڅې او سختۍ سره خپله لار ولټوي، ترڅو خپلې اصلي موخې (جنت الفردوس) ته ورسېږي.

پام مو وي چې جنت د الله سبحانه وتعالی ارزښتمن او قېمتي نعمت دی؛ نو ځوک چې غواړي بېړه وکړي او دغه لوی نعمت (جنت) ته ځان ورسوي، نو د مسلمانانو د دردوونکي وضعيت د بدلون لپاره بايد هڅه وکړي او ځوک چې غواړي بېړه وکړي او دغه لوی نعمت (جنت) ته ځان ورسوي، نو په پوره اخلاص او ټول توان سره بايد د نبوت پر منهج د دويم راشده خلافت د تاسيس لپاره کار وکړي؛ ځکه خلافت د رب ژمنه، د رسول الله صلی الله عليه وسلم زېری او د مسلمانانو د اوسني واقعيت د بدلون لپاره يوازينۍ مناسبه لار ده او بس!

اې ربه! د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر منهج راشده خلافت ژر راوله، چې د هغه په واسطه د مسلمانانو خپګان له منځه لاړ شي او له هغوی څخه مصيبتونه لرې. اې ربه! د خپل کريم نور په مرسته ځمکه رڼا کړه! اللهم آمين آمين!

**ژباړن: صهيب منصور**